یونس نگاه
۱۸ اگست ۲۰۲۳




**یونس نگاه**

## عمران خان، هغه غوټه چې ای‌ایس‌ای ګنډلې ده

تېره ورځ په اسلام اباد کې د محکمې له حکم نه نیمه ګړی وروسته، د پاکستان پخوانی لومړی وزیر عمران خان، په لاهور کې خپل کور کې ونیول شو او زندان ته ولېږل شو. شاوخوا درې میاشتې وړاندې، د مې په ۹مه نېټه هم، ښاغلی خان نیول شوی و، خو د درېیو میاشتو په لړ کې داسې ښکاري چې سیاسي صحنې تر ډېره د نوموړي د مخالفینو په ګټه بدلون کړی دی. په لومړي پړاو کې، له ښاغلي خان سره له ډېر احتیاط نه کار واخیستل شو او د مودو لپاره یې د محکمې د حکم پر وړاندې مقاومت وزغمل شو او د پولیسو ځواکونو پر کور یرغل ونه کړ.

هغه مهال، د نوموړي له نیول کېدو وروسته، د نوموړي ملاتړ کوونکو او د تحریک انصاف ګوند غړو غبرګونونه، دولت او د پاکستان پوځ یې لار ورکې کړي وو. په پایله کې د اوضاع د کنټرول لپاره، خوشې یې کړ. دا پړاو پولیسو د ښاغلي خان په کور یرغل وکړ، د عمران خان د ګوند د غړو په خبره، ساتونکي یې وهلي او په خپله نوموړی په داسې حال کې چې مخ یې په توره ټکه پټ شوی و، په زور سره راایستل کړای شوی او وړی دی.

د تحریک انصاف ګوند دا ځل هم له خلکو او د ګوند له غړو غوښتي دي ترڅو غلي پاتې نه شي او د عمران خان د خوشې کېدو لپاره سوله ییز اعتراضونه په لاره واچوي. په سوله ییز اعتراض ټینګار د ګوند په اعلامیه او دغه راز د عمران خان له مخکې ثبت شوي پیغام کې راغلي چې د مې د میاشتې د ګډوډیو له تکرار نه د ګوند د مشرانو د وېرې په اړه کیسه کوي او دا چې د تحریک انصاف ګوند فعالین د یاد ګوند د مخالفینو له لوري بیا ونه ځپل شي. د نه تاوتریخوالي اعتراضونه اوسنی دولت او پوځ به له ننګونې سره مخ نه کړي.

یو شمېر لړکي چې بېلابېل مخالفتونه یې د بیکارۍ، فقر، د ناامنیو زیاتوالی او د حاکم حکومت ظلم یې د عمران خان له مسالې سره تړلي وو، سړکونو ته راووتل، ټول د تحریک انصاف ګوند غړي نه و تر څو دا ځلې هم د سیاسي موخو لپاره سړکونو ته راووځي. یاد اعتراضونه به په ډېر احتمال داخلي تکرار نه شي. ډېری شمېر سیاستوالو چې فکر یې کاوه له یادې ډلې سره د یو ځای کېدو له لارې تازه فرصتونو ته به لاسرسی ومومي، هم دا مهال غلي دي او

د انصاف ګوند ډېر شمېر کادرونه له هغې ډلې چې نور په رښتیا هم د پوځ د حاکمې ډلې د غوسې وړ ګرځېدلې دي، خپله لاره جلا کړې ده. په هغو اعتراضي غونډو کې چې تېره ورځ د پاکستان په ځینو ښارونو له ډلې په پېښور او لاهور کې په لاره اچول شوې وې، ګوندي فعالین او د سپین لستوني لرونکي خلک پکې لیدل کېدل او له ځوانانو، کارګرو او د ټېر ځلي غوسه پارونکو خلکو نه خبر نه و.

د سږ کال پر ټولټاکنو شخړه

د پاکستان صدراعظم ښاغلي شهباز شریف، خپله استعفا اعلان کړې او ټاکل شوې ده د رواني میاشتې په ۹مه نېټه، د نوموړي دولت خپلې چارې یوې لنډمهالي ادارې ته وسپاري او د درېیو میاشتو په لړ کې ټولټاکنې په لاره واچول شي. داسې ښکاري د پاکستان پېت دولت پرېکړه کړې ده په ټولټاکنو کې د عمران خان او ګوند مخنیوی یې وکړي. په تېرو څو میاشتو کې د تحریک انصاف ډېر شمېر کادرونه زنداني کړای شول او د یاد ګوند د فعالینو او ملاتړ کوونکو سخت ځپل دوام لري. تازه په پارلمان کې د بریتانیا د استعمار د دورې د یوه پاتې شونکي قانون اصلاحیه وړاندې شوې ده چې د هغه پر بنسټ د هېواد د استخباراتو ځواکونه کولای شي له ګواښ او مخکې اطلاع پرته، هر کس او هرځای تر څېړنې لاندې ونیسي او «د اړتیا په وخت کې له زور نه کار واخلي«

سره له دې چې د سیاستوالو، مدني فعالینو، ورځپاڼې لرونکو او سیمه ییزو منتقدینو په خپل سر نیول کېدل او ورکېدل په تېر کې هم دوام درلود او اوسمهال یو شمېر سازمانونه او په پاکستان کې سیاسي ګوندونه ادعا لري چې په ټول هېواد کې زرګونه تنه برمته کړای شوي یا ورک شوي دي او د یاد هېواد د پولیسو او استخباراتو ځواکونو له لوري د یادو وګړو له نیول کېدو وروسته د هغو کورنیو او خپلوانو ته د زنداني کړای شویو کسانو په اړه هېڅ نښه نده ورکړل شوې. سربېره پردې، وروستۍ اصلاحیه په خپل ډول پخوانۍ ده او د پارلمان د غړو او د سیاسي او مدني فعالینو ترمنځ یې تازه وېره زېږولې ده. کېدای شي د تحریک انصاف له ګوند سره چلند او د راتلونکو ټولټاکنو مدیریت، د یادې اصلاحیې یو له موخو نه وي.

عمران خان هم په خپل وروستي پیغام کې چې د نوموړي له نیول کېدو وروسته خپور شوی، له خلکو غوښتي دي ترڅو د خپلې رایې له حق نه دفاع وکړي. نوموړي د خپل ګوند غړو ته ویلي دي چې پخپلو کورونو کې په ارامه کښېنني او غلامۍ ته غاړه کښېنږدي؛ ځکه چې د نوموړي په خبره د پاکستان د رامنځته کېدو فلسفه له انساني بنده ګۍ سره مبارزه ده. عمران چې د مذهبي عباراتو په تلفظ کې مهارت نه لري، ویلي دي چې پاکستان د لا اله الا الله په شعار جوړ شوی دی. نوموړي په عامیانه روایت په مدینه کې د اسلام د «نبي ریاست» له دورې هم یادونه کړې او ویلي دي چې د اسلام پیامبر د خپل «ریاست» په دوره کې په مدینه کې ډېر انسانان ازاد کړي و. عمران خان چې د محافظه کارانو په منځ کې له نفوذ او له نامتو مذهبي ډلو سره ځانګړې اړیکې لري، د صلوات د عبارت په تلفظ کې چې مسلمانان یې د اسلام د پیامبر د درناوي په موخه د نوموړي د نوم اخیستلو په وخت کې کاروي، هم مهارت نه لري او هغه یې په خپل پیغام کې «سلا والي سلم» بللی دی.

له مذهب نه ابزاري ګټه اخیستنه

د پاکستان ډېری بنسټ ایښودونکي سکولار فکري او په بریتانیایي پوهنتونونو کې یې زده کړې کړې وې. محمد علي جناح او ملګرو یې هڅه کوله یو عصري هېواد د هند د قارې په یوې برخه کې چې ډېری جمعیت یې مسلمانان دي، رامنځته کړي. له هماغه وخت د استعمار له دورې نه د پاتې شونکو سازماني او اداري میراثونو د لټې سربېره، د پاکستان مشرانو هڅه کړې له دین، هنر او ورزش نه د نوي ملي هویت د معرفي کولو لپاره ګټه واخلي. په ښوونیزو نصابونو، سیاسي تبلیغاتو او رسنیو کې دین د پاکستان د هویت د پایې په توګه معرفي شو.

له هندوستان سره پوځي مخامخ کېدنه چې کله ناکله د هېواد د زمکنی بشپړتیا د پاېښت تر ګواښ پورې پرمخ تلله او د ۱۹۷۰ لسیزې په لومړیو کې د پاکستان د خاورې د نیمايي ختیځې د لاسه تللو لامل شو، د یاد هېواد مشرانو یې تر ډېره د مذهبي تندلارو د روایتونو نه په ملاتړ وهڅول. مدرسي ډېرې شوې او مذهبي او جهادي حساسیتونو ته یې لمن ووهله.

موسیقي او ورزش هم د یووالي او د ملي هویت د معرفي کولو لپاره مهم ابزار ګڼل شوي وو. قوالي ویونکو هنر برخي ته د مذهب ایستل او له موسیقی سره د پاکستان د مذهبي هویت تړل کېدو په برخه کې، مهم رول ولوباوه. قوالي چې صوفیانه سنت او فرهنګ و، په پاکستان کې د صوفیانو له انحصار نه بهر کړای شو او د سیاست بازار او مذهبي تندلارې ته وړاندې شو. ورزش، په تېره کرېکټ، هم د پاکستان د سیاستوالو د پام وړ ده. د کرېکټ سیالی کله ناکله په نرمه جګړه او د پاکستان او د بریتانیا نورو مستعمره په تېره هند د ډېر جدي غیر وسله وال ترمنځ په تقابل بدل شوی دی. عمران خان په ځوانی کې د کریکت لوبو یو ستوری و. نوموړي چې هغه مهال د خلکو له لږکیو او مذهبي ډلو سره مخامخ اړیکه نه درلوده او خپل ډېر وخت یې په لویو غونډو او محفلونو کې تېراوه، د اسلام اباد، لاهور او همداراز لندن او د لوېدیځ نورو ښارونو ته یې سفرونه کول.

د بېلابېلو خلکو ترمنځ یې شهرت موندلی و او په میلیونه پاکستانیان په نړیوالو سیالیو کې د نوموړي له ځلېدو حیران پاتې وو، خو د نوموړي او د هغو خلکو ترمنځ چې نن له نوموړي نه په ملاتړ سړکونو ته راوتلي دي، هېڅ ډول فکري او سیاسي اړیکه نه وه. کوم انځورونه چې د عمران خان د تېرو کلونو نه پاتې دي، نوموړی د ښځو او ښاري نارینه و او د لیبرالیستي فرهنګ لرونکو ترمنځ ښیي؛ خو دغه وضعیت په تېرو دوو لسیزو کې بدلون کړی دی. عمران خان د سیاست ډګر ته په راتللو، پرته له دې چې خپلې اړیکي او شخصي لیبرالیستي چاپېریال پرېږدي، تازه سیاسي نقاب یې اغوستی چې له نوموړي یې د طالبانو ملاتړ کوونکی او د محافظه کاره ډلو متحد جوړ کړی دی.

ایا د ښځو غوټه به وکړای شي دغه پېچلی غوټه خلاصه کړي؟

هغه مهال چې عمران خان د کرېکټ ستوری و، د هغه وخت سیاسي ګوندونو د خپلو پوځي اډو ته د سیالی لپاره هڅاوه. د دان ورځپاڼي د ۲۰۱۸ په اګست کې، په یوې مقاله کې ولیکل چې ضیاالحق په ۱۹۷۹ کې عمران خان ته بلنه ورکړې وه تر څو له سیاسي ګوند سره یې یو ځای شي. سیاستوالو او استخباراتیانو چې نوموړی د لږکیو ترمنځ نامتو او د پاملرنې په وړ څېره بدل شوی و، پرېښنود او په پایله کې د پاکستان د استخباراتو پخواني مشر او د جهادي ډلو نامتو ملاتړي جنرال حمیدګل د شلمې پېړۍ د اتیایمي لسیزې په وروستیو کې، عمران خان یې په ۱۹۹۴ کال کې د «پاسبان جمعیت» تازه تاسیس شوي سیاسي ډلي چې د پاکستان د اسلامي جمعیت نه جلا شوې ډله وه، وهڅاوه. دوه کاله وروسته، د ۱۹۹۶ کال د اپریل په ۲۵مه، عمران خان د تحریک انصاف په نوم خپلواک ګوند ثبت کړ. د آی ایس آی له دروازې نه سیاست ته د عمران خان ننوتل، د نوموړي په سیاسي کارنامي سیوري واچوه او تر نن ورځې پورې یې نه خوشې کوي. عمران خان په دې موده کې، د سیاسي موخو لپاره، اړیکو او تولنیزو چلندونو ته یې هم بدلون ورکړی دی. نوموړي چې د شهرت په پیل کې یې خوښېده د لوېدیځو عصري نجونو ترڅنګ ولیدل شي او انګلیسي مېرمن سره واده وکړي، په تدریج سره د ای اېس ای د بریتورو تر څنګ، له ډلي جنرال حمیدګل سره ظاهر شو، نوې مېرمن یې له پاکستان نه وکړه او له تندروه ملایانو سره یې یووالی اعلان کړ. د عمران خان ودونه د نوموړي د سیاسي سفر ایینه ده. نوموړي په ۲۰۱۳ کال کې صدراعظمی څوکی ته د رسېدلو لپاره خپله لومړنی سیالی تجربه کړه، خو ډګر یې د مسلم لیګ نواز شریف ګوند ته وبایله. په ۲۰۱۵ کال کې، له یادې ماتې دوه کاله وروسته او د وروسته ټولټاکنو د سیالیو په درشل کې له نامتو خبریال، ریحام نیرخان، سره واده وکړ چې کېدای شي له رسنیو سره د

عمران خان لېوالتيا وښيي. ياد واده شاوخوا لس مېاشتې دوام وکړ. تر هغه مهاله د عمران خان شهرت د پوپوليست د سياستوال په توګه او محافظه کارانو ته د نږدې کس په توګه تثبيت شوی و. د پاکستان پوځ او استخبارات چې له کورنيو طالبانو سره په جګړه او د افغان طالبانو په پياوړتيا کې بوخت وو، له مشهور سياستوال لکه عمران خان چې زده کړې يې و څه ډول پرته له دې چې خپله تندروه وي د دين، عنعناتو او مذهبي سنتونو له ابزارو سره لوبه وکړي، غنيمت وشمېره. عمران خان همممهاله له محافظه کارانو سره د اړيکو په پياوړتيا او د پاکستان د پټ دولت د ملاتړ په هڅولو، يوې صوفي مېرمنې (بشرا بي بي) سره نږدې شو چې د دوو پخوانيو مېرمنو په پرتله يې بشپړ حجاب اغوندي او له سترګو پرته، ټول ځان پوښوي. عمران خان او بشرا بي بي له ۲۰۱۵ کال راپدېخوا په اړيکه کې وو او په ۲۰۱۸ کال کې، په ټولټاکنو کې د عمران خان له بريا سره، يو بل سره يې واده وکړ.

د دوو لسيزو په واټن کې، عمران خان د ملګرو او استخباراتي ډلو په ملاتړ واک ته رسېدلی دی او د يوه لېبرال ورزشي اتل او بشردوستانه فعاليتونو سره د لېوال وګړي نه په داسي کس بدل شو چې مېرمن يې طالباني حجاب اغوندي او د طالبانو بشري ضد سياستونه، له ډلې يې په ټولنه کې د ښځو د شتون منع کول او د نجونو د ښوونځيو تړل توجيه کوي. په ۲۰۲۱ کال کې، کله چې طالبان کابل ته راغلل، عمران خان چې د پاکستان لومړی وزير و، وويل چې افغان ملت د غلامۍ ځنځير مات کړی دی او په هماغه وخت کې يې وويل چې له ښوونځي نه د نجونو منع کول د پښتنو د دود يوه برخه ده، نه د طالبانو ظلم. د نوموړي دغو څرګندونو د افغانانو سخت اعتراضونه راوپارول او په پاکستان کې هم د نوموړي ددې خبرې پر وړاندې ډېر اعتراضونه وشول. واک ته د طالبانو په بيا راتګ سره، د عمران خان ستوری هم د پاکستان د پټ دولت په آسمان کې، هغه څه چې د ياد هېواد د خلکو په منځ کې د ستبلشمنت په نوم مشهور دی، افول شو. د پاکستان مشرانو دې ته پام شو چې عمران خان او يو شمېر پوځيان او نوموړي ته نږدې جنرالانو له هغه رول نه چې هغوی ته ورکړل شوی و، له حد نه زيات پکې ډوب شوي دي. له همدې امله نوموړی يې له واک نه ليرې کړ او په بېلابېلو مالي او سياسي دوسيو يې بوخت کړ. داسي ښکارېدل چې عمران خان خپل ماموريت سم ترسره نکړ او بايد ليرې شوې وای ترڅو د تازه پړاو د مديريت لپاره بل ټيم چې په هغه کې داخلي طالبان د واک اخيستنې په حال کې وو، ډګر ته راغلي وای.

عمران خان په نږدې درېيو لسيزو سياسي فعاليتونو کې د پاکستان د پوځ له اجندا نه پرته، شخصي برنامې يې هم لرلې او يو مهال د ۲۰۲۲ کال په اپريل مېاشت کې په زور سره يې له واک نه ليرې کړ. لکه څنګه چې په ۱۹۹۴ کال کې جنرال حميد ګل د نوي زده کړيال په توګه تر وزر لاندې نيول شوی و، نوموړی د داسي ګوند مشر شوی و چې د هېواد بېلابېلي برخې، په تېره په پنجاب او خيبر پښتونخوا کې ميليونونه ملاتړي يې درلودل او حاضر نه و چې له خپلو لوړو خيزونو نه لاس واخلي. اوس مهال چې يو کال او څلور مېاشتې د عمران خان له ليرې کېدو تېرېږي، لا هم نوموړی ارامه نه دی ناست او په ټول ځواک د پاکستان په سياسي دسترخوان کې د سهم دعوا لري. نوموړی د پاکستان په سياست کې په لويې غوټې بدل شوی، خو پخوانيو دوستانو او اوسنيو سيالانو يې په خپل نفس د اعتماد له امله له دغې غوټې سره چلند کوي. سبرکال به روښانه شي چې په رښتيا هم هغوی پر اوضاع حاکم دي او عمران خان او ګوند يې لکه څنګه چې ليرې کړي وو، له صحنې ليري کړي کنه.